AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ژباړه : ع/ شیرزوی
۲۰۱۸/۰۵/۱۹

# دافغانستان تاریخي دورو ته لنډه کتنه

## دویمه برخه

۱۳ ـ د اتمې پیړۍ څخه تر لسمې میلادی پیړی پورې بودایي دین ښاوخوا ټول افغانستان کې خور شوه، چې ددی دوری ستر میراث دوه لوړ بتان دی چې یویې د ۵۳ مترو په لوړوالی سره او بل یې د ۳۵ مترو په لوړوالی سره راپاتي وه.

۱۴ ـ د سامانیانو له دوری ورسته د غزنیانو دوره رامنځ کیږی چې ۹۶۲- ۱۱۴۰ م کلو پورې واک پلاس کې درلود، غزنوی سلطان محمود چې د ۹۹۸ – ۱۰۳۰ م کال پورې سلطنت وکړد نوموړی د واکمنې دوره د تاریخ په پاڼو کې د ډیرو ړنو دورو څخه ګڼل کیږی.د سامانیانو سلسله د زاړه ایران له کورنۍ سره تړاو لری چې لږ او ډیریې د خراسان په ټولو ځمکو، هیرکان، مکران، سیستان، خوارزم، او کرمان باندی حکمراني درلوده، د سامانیانو ټبر د « سامان خدا » سره غوټه دی چې د بلخ د ښاوخوا یو زردشتی بزګر وه، د ایران په فرهنګې وده کې لوی لاس درلود.

۱۵ ـ طغرل بن میکایل چې د سلجوقیانو د سلسلې بنسټ ګر وه چې د ۱۰۳۸- ۱۱۵۳ م پورې د حکومت واکې په لاس کې لرلي.د سلجوقیانو سلسله هم د ایرانی کورنۍ سره تړاو لری چې په پنځمه، شپږمه هجری قمری پیړۍ کې په لویدیځې آسیا، او صغیری آسیا لکه: ایران، روم، افغان، شام، ارمن، عرب او ترکانو باندې واکمنې درلوده. دوي د ایران او ترکیې فرهنګونوته پیوند ورکړکله چې سلطان محمود غزنوی ته یې ماته ورکړه په نیشاپور کې « طغرل بن میکایل » پر تخت کیښناست، د سلطان ملک شاه سلجوقی په دوره کې ددوي ځواک ښه پنځیدنه وکړه چې د ختیځ لورې څخه ماوراءنهراو د لویدیځ لورې څخه د مدیترانې تر سنده ورسیدل.

۱۶ ـ د غوریانو دوره: نوموړی کورنۍ د ( ۱۱۴۸- ۱۲۱۴ ) میلادی پیړی پورې واکمنې په لاس کې درلودله ددې کورنۍ بنسټ ایښودونکې « سلطان علاوالدین حسین» دی چې د غزنی ښاریې ویجاړ کړاو د جهان سوز په نوم مشهور شوه دې دورې یو ځواکمن دولت رامنځ ته کړچې د پاتې شونو څخه یې قطب منار په ډهلی کې اود جام منار په غور کې یادولی شوو.

۱۷ ـ خوارزم یو زرغون،ودان او پیژنو ولایت وه چې د آمو له سینده  څخه اوبیده،ښارونه یې له بازارونوډک و کلي یې یو د بل سره نږدی وه، د کرنې ځمکې او ماڼې یې درلودی، پلازمنه یې « ګرګانج» ( جرجانیه )نومیده او د ډیرو پخوانیو زمانو راهیسې د افغانستان، د شمالی ولایاتومادون النهرښارو سره د ژوند په ټولو برخو کې ښې اړیکې درلودلی.دوي د ( ۴۹۱- ۶۱۶ ) م کالوکې په ایران واکمنې درلوده، ددوي حکومت د ظلم، مذهبی او سیاسی تنګ نظری څخه ډک وه کله چې د غوریانو سلسله د ماتی سره مخامخ شوه ترکی دولت، ثمرقند، او د کاشغرستان دولت یې په شمال ختیځ د خراسان کې ، لویه امپراطوری رامنځ ته کړه ددوي حکومت د څلورو کالو څخه زیاد دوام ونه کړد چینګیز د یرغل لاندی راغی او په کال ۱۲۱۹ م کې له منځ لاړ.ددوي کورنۍ د اسلام څخه دمخه او ورسته د ( مامونیانو) په نوم یادیدل چې په اسلامی دوره کې موسس ( ابوسعید احمد د محمد زوی ) وه.

۱۸ ـ په ۱۲۲۱ م کال کې چې د ۶۰۰ شمسی کال سره سمون خوري « تمرچین » چې په مغولی چینګیز باندې مشهور وه د یوه خړ سیلاب په شکل کې په افغانستان یې یرغل وکړچې د هیواد د ډیرو ښارو د سوځیدو، ویجاړولو،او خرابیدو باعث و ګرځید. د چینګیز کورنۍ « ۱۱۴ » دوام پیدا کړ، یواځنې سیمه چې ددي خونړي یرغل نه په امان کې پاتی شوه هغه د « ملوک کرت » د حکمرانی سیمه وه.

۱۹ ـ ملک کرت :ددې سلسلې بنسټګر شمس الدین محمد کرت وه، پلاریې « ملک رکن الدین غوری » وه چې یو کوچنې حکومت یې د غوراو خیسار ( هرات او غور ترمنځ ) لاس ته راوړی وه، کله چې هغې د مغولو د خانانو باورپه خراسان،غور،جام، سیستان، او ښاوخوا سیمې یې په خپله واکمنې کې ورګډې کړی او د غرجستان تر لاس



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ته راوړلووړسته يې خپله ځواک د مغولی د ځواک سره په توپير کي نه ليده او پر هغي باوری وه ښاوخوا سيموته يې خپل واک وغزوه. ملک کرت د ۱۲۱۹- ۱۳۸۱ »کلو تر منځ د حکومت واکي پلاس کي درلودلی، د ګوډ تيمور د يرغل سره جوخت ددي کورني واکمنی پای ته ورسيده.

۲۰ ـ تيموريان ( ۱۳۶۹- ۱۵۱۶ م )

امير تيمور د امير ترغای زوی چي په قوم تاتار وه او د هغي يوه ځانګه د مرکزی آسيا مغولو ته رسيږي امير تيمور په « ۷۳۶ ه، ق » کي د ( کش ) په ښارکي زيږيدلی دی، همدا رنګه امير تيمورخپل نسب د مغولی چينګيز سره تړي، په « چغتايي » ژبه کي تيمور د اوسپني مانا ورکوی، امير تيمورپه ډيرو القابو يادشوی دی لکه: امير تيمور، ګوډتيمور، ګورګاني تيمورچي اروپايانو به ورته « تامرلان » ويل.

دعرب شاه تاريخ ليکونکي په وينا امير تيموريه کوچني والی کي کينه پښه ټپي شوی وه هغي د خپلي ځواني په وخت کي د خپلي ميرمنی د وروړ« امير حسين» سره يو ځای په افغانستان کي د سميه ايزو اميرانو په چوپړ کي تيرکړل. کله چي هغي د چغتانيانو حکومت غضب کړد کش او ثمرقند ښارونه يې ونيول چي د ماوراالنهر د نيولو څخه ورسته په ۷۷۱ هه کي د افغانستان د نيولو په نيت راوغوځيد او پوره اته کاله پدي خاوره کي د جګړو سره مخامخ شوه په بلخ کي د هندوان کلا د خاورو سره خاوری کړه،هرات ښاريي لوټ اوخپلو نظاميانو ته پريښود. د هغي ورسته د فارس هيواد د مازندرانو د تاريو څخه ونيوه، اذربايجان، ګيلان، ګرجستان،او داغستان يي پرته له کومي ستونزی ونيول. په اصفهان کي يي د ۷۰ زرو انسانانو د سرونو څخه « کله منار » جوړ کړ. له هغي ورسته تيمورعراق او عرب خواته وخوځيد او بيا يي روسيی ته پام شو د مسکو ښاريي لوټ کړپه کال ۸۰۱ هه کي د افغانستان له لاری د هند پر هيواد يرغل وکړاو تر ډهلی پوري وړاندی لاړ.تيمور په کال ۸۰۴ هه کي په کوچني آسيا يرغل وکړد عثمانی ترکی دولت يي مات کړ« ويلدم » ترکی زړور سلطان يي بندی کړکله چي تيمور سمرقند ته راورسيد په کال ۸۰۷ هه کي د چين د نيولو پريکړه وکړه خو ژوند ورسره وفا ونه کړه او خپله حريصی سترګي يي له نړی څخه پټي کړي .

ددويمي برخي پای

نوربيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ